# لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ)ووايه، زه به درته د الله تعالی په وړاندې د) قيامت په ورځ ګواهي ورکړم

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَمِّهِ: «قُلْ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، أَشْهَدُ لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ»، قَالَ: لَوْلَا أَنْ تُعَيِّرَنِي قُرَيْشٌ، يَقُولُونَ: إِنَّمَا حَمَلَهُ عَلَى ذَلِكَ الْجَزَعُ لَأَقْرَرْتُ بِهَا عَيْنَكَ. فَأَنْزَلَ اللهُ: {إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ } [القصص: 56]. رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل کاکا ته وويل: « (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) ووايه، زه به درته د الله تعالی په وړاندې د قيامت په ورځ ګواهي ورکړم»، وايي: که چېرته قريشو پېغور نه راکاوه او نه يې ويل: چې سختۍ - د مرګ ويرې او کمزورۍ - دې کار ته اړ وېسته نو ستا سترګې به مې پدې سره يخې کړې وې، نو الله تعالی دا آيت نازل کړ: {إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ} [القصص: 56]. يعنې: بېشکه ته هدايت نشې کولی هغه چا ته چې ته يې خوښوې، او لېکن الله هدايت ورکوي چا ته چې وغواړي او هغه ښه عالم دی په هدايت موندونکو باندې)

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپل تره ابو طالب څخه په داسې حال کې چې د مرګ په سختيو کې و، وغوښتل چې: (لا اله الا الله) ووايي تر څو ورته د قيامت په ورځ شفاعت وکړي، او په اسلام يې ګواهي ورکړي، هغه د شهادت له کلمې څخه لدې ويرې انکار وکړ چې قريش به يې وکنځي او په اړه به يې ووايي چې: هغه د مرګ او کمزورۍ له ويرې اسلام راوړ! نو نبي صلى الله عليه وسلم ته يې وويل: که چېرته داسې نه وای نو خامخا به مې د شهادت په ويلو سره ستا سترګې يخې کړې وې، او ته به مې ستا مراد ته رسولی وی تر دې چې ته راضي شې! نو الله تعالی هغه آيت نازل کړ چې پدې دلالت کوي چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم اسلام ته د توفيق د هدايت واک نه لري، بلکې الله تعالی يوازې هغه ذات دی چې د توفيق هدايت چاته ور په برخه کوي، او پيغمبر صلى الله عليه وسلم خلک په دلالت، بيان، لارښوونې او بلنې سره خلک نيغې لارې ته رابلي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65069